داهل سنتولپاره

# په اسلام کې د ښځې حکم

Ketabton.com

ليکوال :

مولانا اشرف علي تهانوي (رح)

ژباړن :

نعمت الله پټانزی

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالـۍ

## دافغانستان ټول مـؤمن , مسلمان او مجاهـد اولس ته !

ژباړن

دچاپ ټول حقوق يې له ژباړن سره خوندي دي

کال : ۱۳۹۵ هـ ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دمطالبولړليک

**سرليک** **مخګڼه**

دژباړن سريزه.......................................4
دږيرې خريل لويه ګناه ده اوپه هغه باندې مسخرې کول کفردی.......................................5
دږيرې په اړه ځومسئلې.......................................8
دږيرې خريل يوه بې خونده ګناه ده .......................................10
دږيرې پريښودل داسلام دشعائروڅخه دي .......................................11
بهانې.......................................13
دسنتوپيروي.......................................15
جسمي زيانونه.......................................16
په قرآن کې دږيرې حکم.......................................20
دژباړن لنډه پيژندنه.......................................22

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دژباړن سريزه

**الحمدلله والصلاة والسلام على رسول الله وآله وصحبه وبعد:**

**درنو لـوستونکو:**

مونږاوتاسې ټول پدې پوهيږوچې په دې زمانه کې فساد ،فتنې ،بدعتونه ،دکفارو تقليداودنارينه ؤ ورته والى دښځوسره داسې ځاى ته رسيدلي دي چې په دې وروستيووختونوکې دږيرې پريښودل دځينوکسانولپاره د وروسته پاتې کيدو اودکلتوردنـه لرلوپـه معنې سره تعبيريږي ،حتې تردې چې ځينې کسان يـې دنظافت اوپاکوالي په نه لرلوتورنوي خو ؛حقيقت داسې نه دي هغه کسان چې ږيرې لري بايددخلکو دمسخرو اوبې ځايه خبروڅخه ونه ويريږي داځکه چې دږيرې پريښودل زمونږدګران پيغمبر(صلى الله عليه وسلم) له سپيڅليوسنتوڅخه دي اود پيغمبر(صلى الله عليه وسلم) دسنتوپيروي کول عين دالله (جل جلاله) متابعت اوپيروي کول دي .په همدې اساس مې وپتيله چې ترڅودحکيم الامت مولاناتهانوي (رح) داکتاب چې په اوردو ژبه يې ليکلى دي پښتوژبې ته راوژباړم ترڅولوستونکي يې له ګټو برخمن شي .

چې په دې کارسره دالله (جل جلاله) په مرسته بريالى شوم اودادى ستاسوحضورته داکتاب «په اسلام کې دږيرې حکم» له پښتوژباړې سره وړاندې کوم ،هيله لرم چې په لوستلوسره يـې دږيرې د ځانګړتياؤ ، اهميت اوګټو په اړه بشپړمعلومات ترلاسه اوعمل پرې وکړئ . درنښت

**ستاسې ددعاوو په هيله**

**نعمت الله پتانزى**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دږيرې خريل لويه ګناه ده اوپه هغه باندې مسخرې کول کفردي

الله (جل جلاله) په خپل کتاب قرآن العظيم الشان کې فرمايلي دي :

«وَقَالَ لَأَتَّخِذَنَّ مِنْ عِبَادِكَ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا ﴿١١٨﴾ وَلَأُضِلَّنَّهُمْ وَلَأُمَنِّيَنَّهُمْ وَلَآمُرَنَّهُمْ فَلَيُبَتِّكُنَّ ءَاذَانَ ٱلْأَنْعَٰمِ وَلَآمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ ٱللَّهِ ۚ وَمَن يَتَّخِذِ ٱلشَّيْطَٰنَ وَلِيًّا مِّن دُونِ ٱللَّهِ فَقَدْ خَسِرَ خُسْرَانًا مُّبِينًا ﴿١١٩﴾»

(دالنساء سورت ۱۱۸ - ۱۱۹ آيت)

**ژباړه :** « او وويل (شيطان) هرومرو(خامخا) به ونيسمه زه (ای الله !) ستاله بنده ګانوڅخه يوه مقرره کړې شوې برخه .او هرومرو به زه دوي بې لارې کړم ،اوهرومروبه زه دوي په باطلوهيلوکې واچوم ،اوهرومروبه زه دوي ته امروکړم ترڅوهغه خلقت اوصورت چې الله (جل جلاله) دوي ته ورکړی تغيرورکړي اوغوڅوي به دوي دڅارويو غوږونه دخپلومعبودانولپاره ،اوهرڅوک چې دالله (جل جلاله) پرته د شيطان سره ملګرتياونيسي بې له شکه چې ښکاره زيان يې وکړ» .

(..**فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ ٱللَّهِ...**)په مصداق کې دږيرې خريل هم شامل دي .([1])

**حديثونه :**

۱- رسول اکرم (صلی الله عليه وسلم ) فرمايلي دي : «خالفواالمشرکين قصواالشوارب واعفواالحی.»

ژباړه : « له مشرکينوسره مخالفت وکړئ ،بريتونه لنډ کړئ اوږيرې پريږدي » .آنحضرت (صلی الله عليه وسلم) په دغه دواړومسئلوکې دامرصيغه راوړې ده ،او امر د وجوب په معنی سره دی نودواړه حکمونه واجب دي اوپريښودل دواجبوحرام دي ،په همدې اساس دږير ې خريل اودبريتونو نه لنډول حرام دي .

۲- عن عائشته رضی الله عنهاقالت : قال رسول الله (صلی الله عليه وسلم ) :«عشرمن الفطره : قص الشارب ،واعفاء اللحيه ،والسواک ،واستنشاق الماء ،وقص الاظفار ،وغسل البراجم ،نتف الابط ، وحلق العانه وانتقاص الماء(يعنې الاستنجاء) » . رواه مسلم ،ابوداود ،ابن ماجه .

---

([1]) - مسائل السلوک .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه :**«له حضرت عايشې (رضی الله عنها) څخه روايت دی چې : رسول الله (صلی الله عليه وسلم) وفرمايل : لس خويونه دفطرت له خويونوڅخه دي : دبريتونوخريل ،دږيرې پريښودل ، مسواک وهل ،دپوزې پريمنځل ، دنوکونواخيستل ،دګوتودبندونواومفاصلو پريمنځل دځنګ (تخرګ) دويښتانوليرې کول ،ترنامه لاندې ويښتانوليرې کول ،ختنه کول ،دخولې پريمنځل اواستنجاء کول.»

په اسلامي شريعت کې فطرت هغه چارو اوکارونو ته ويل کيږي چې هغه سنت اودټولوانبياو کرامولاره اوطريقه وي اوموږيې په سرته رسولوسره مکلف ؤ ،لکه څرنګه چې امام نووي دمسلم شريف په شرحه کې داسې فرمايلي دي : « چې هغه دانبياءکرامو له سنتوڅخه دي .»

دحضرت هارون (عليه السلام ) په اړه په قرآنکريم کې داسې راغلي دي :

«لاتاخذبلحيتی ولابراسی.» ([2])

**ژباړه :** « ای وروره! ما له سر اوږيرې مه نيسه. »

٣- عن ابن عمر(رضی الله عنه) قال :قال رسول الله (صلی الله عليه وسلم ) :«خالفواالمشركين احفواالشوارب واعفوااللحی. » رواه البخاری ،مسلم .

**ژباړه :**«له حضرت ابن عمر(رضی الله عنه ) څخه روايت دي چې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) فرمايلي دي : له مشرکينوسره مخالفت وکړئ ،بريتونه لنډکړئ اوږيرې پوره پريږدئ .»

په صحيح مسلم کې له ابوهريره څخه په يوه بل روايت کې داسې راغلي دي چې : آنحضرت (صلی الله عليه وسلم) داسې فرمايلي دي :«جزوا الشوارب اوفرواللحی خالفوا المجوس .»

**ژباړه :** « بريتونه لنډ کړئ اوږيرې پوره پريږدئ اوله مجوسيانو سره مخالفت وکړئ. »

حضرت شيخ الاسلام مولاناحسين احمدمدني فرمايلي دي :دادوو حديثونه په ډيروکتابونوکې شته دي چې په دې باندې دلالت کوي چې مجوسيانواومشرکينوبه په هغه زمانه کې ږيرې خريلې اوبريتونه به يې اوږده پريښودل په داسې توګه لکه دنن زمانې مسيحيان يې چې کوي .

---

([2]) - اصلاح الرسوم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- « من لم ياخذمن شاربه فليس منا.» رواه ابوداود.

**ژباړه :** « هرهغه څوک چې بريتونه نه لنډوي زماله ډلې څخه ندي.»

فکروکړئ چې حضرت محمد(صلی الله عليه وسلم) په دې اړه څه ډول ناخوښي څرګنده کړئ ده .

ګفته او ګفته الله بود - ګرچه ازحلقوم عبدالله بود

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دږيرې په اړه څومسئلې[3]

1. **مسئله :** دبریتونولنډول ترشونډو پورې سنت دي اودهغه دخريلوپه اړه اختلاف موجوددی چې ځينې بياهغه ته بدعت وايي اوځينې نورو بيااجازه ورکړيده ،په همدې اساس يې نه خريل بهتردي .
2. **مسئله :** که چېرې بريتونه ښې اوکين دواړو لورو ته اوږده وي کومه ستونزه نه لري ،پدې شرط چې دشونډو پرسر بريتونه اوږده نه وي .
3. **مسئله :** دږيرې خريل اويالنډول حرام دي ،البته که چېرې له قبضې (موټي) څخه اضافه وي بيايې لنډول پروا نه لري چې له څلورو لوروڅخه په يوه برابره اندازه سره واخيستل شي .
4. **مسئله :** دږيرې هغه ويښتان چې پرمخ (غومبوريو) باندې راشنه کيږي که چېرې صاف شي پروانه لري ،که چېرې وروځې داعتدال (برابروالی) له اندازې څخه لويې وي کولای شو هغه لږلنډې کړو ترڅوسره برابرې شي .
5. **مسئله :** دږيرې خريل اويايې لنډول چې له قبضې(موټي) څخه لږوي اوهمدارنګه دبريتونواوږده پريښودل لکه چې نن ورځ يې دځوانانوپه منځ کې دځيرې دښه والي لپاره رواج موندلی دي حرام دی. (4)

لکه څرنګه چې شيخ ابن الهمام د«فتح کبير» په کتاب کې فرمايلي دي : دږيرې لنډول چې له يوې قبضې څخه لږوي لکه چې ځينې غربيان اوبې لارې خلک داکارکوي ،دغه عمل ته هيچامباح نه دی ويلي يعنې داسلامي امت ټول فقهاء په دې اړه دنظريوالی لري ،دغه اجماع يې دوجوب لپاره يو خپلواک اوقوي دليل دی .

6. **مسئله :** په عالمګيري فتواى کې داسې راغلي دي : دږيرې سره کول دنارينه وؤ لپاره سنت دي چې داعمل دمسلمانانودځانګړتياؤ څخه دي همدارنګه په شامي فتواى کې راغلې دي :دجنګ دمواقعونه پرته دږيرې اوسر سره کول مستحب دي خوپه دې شرط چې نوموړی رنګ به مشکي(تيره) نه وي ،اوکه چېرې مجاهد د دښمن په زړه کې دويرې اوډار اچولو لپاره له داډول رنګ نه ګټه واخلي دائمه کرامو(څلوروامامانو) په اجماع سره روادي .اوکه چېرې ديوچادغولولو(تيرايستلو) لپاره داکاروشي لکه

---

([3]) - لمړی مسئله ترڅلورمې پورې د(صفايي معاملات ) له کتاب څخه اخيستل شويدي .
([4]) - اصلاح الرسوم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ميره ښځې ته ياښځه ميره ته فريب ورکړي اوهغه ته خپل ځان ځوان وښيي ،په همدې ډول ياکارکوونکي دکارخاوندته فريب ورکړي چې داکار دائمه ؤ په اتفاق سره ناروادي داځکه چې فريب ورکول ياچل کول دنفاق اوبدی له نښانوڅخه دي ،همدارنګه يوه مسلمان سړي ته فريب ورکول ددې لپاره چې له هغه څخه کومه ګټه ترلاسه شي دټولوپه اتفاق ناروادي ،يودريم حالت هم وجودلري اوهغه داچې که چېرې يوه ښځه ددې لپاره چې خپل خاوندته ښايسته ښکاره شي اوهغه ترې خوښ شي په دې صورت کې دعلماوو کرامو ترمنځ اختلاف موجودی چې زياتره فقهاء اومشايخ هغه مکروه ګڼي اما امام ابويوسف اوځينې نورفقهاء هغه رواګڼي ،دفتوى داحتياط اوعمل په منظور داکار د مجاهد پرته نورو وګړولپاره مکروه دي. (5)

7. **مسئله :** ديوې قبضې څخه دږيرې لنډول حرام دي حتى چې داګناه ترنورو لويو ګناهونوڅخه بدتره ده داځکه چې په دې عمل سره اسلامي احکاموته اهانت اوسپکاوي کيږي ،څوک چې په علني اوښکاره ډول داګناه ترسره کړي دښني لياقت نه لري ،اودږيرې دلنډولواوخريلوګناه تل دهغه سره ملګرې ده ،دلمانځه اونوروعباداتوپه وخت کې هم ورسره ملګرې ده ،لنډه داچې څوک چې ږيره خريي اويايې لنډوي هغه فاسق دي اودفاسق شخص امامت مکروه تحريمی دي .که چېرې داسې شخص په جبري توګه سره امامت کوي اويادجومات خلکوهغه امام کړی وي نوپه دې صورت کې بايددلمانځه داداءکولولپاره بل جومات ته لاړشئ ،که چېرې موبل جومات ونه موند نو ؛بياجماعت مه پرېږدئ په همغه امام پسې لمونځ وکړئ اودهغه اوبال دجومات په سرپرستوخلکوباندې دي .

8. **مسئله :** له ږيرې څخه دسپينوويښتانوليرې کول دښايست ددوام اوبقاء لپاره مکروه دي ،البته دمجاهدلپاره چې ددښمن په زړه کې يې رعب اوويره پيداشي کومه ستونزه نه لري .(6)

---

(5) - جواهرالفقه .
(6) - صفايي معاملات.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دږيرې خريل يوه بې خونده ګناه ده

دږيرې خريل يوه بې خونده ګناه ده داځکه چې نه يې دخريلوپه وخت کې خوندمحسوسيږي اونه له هغه وروسته دراحتئ کوم احساس کيږي ،مګر په عمومي توګه هغه کسان چې ږيره خريي کيداى شي خونديې محسوس کړي لکه څرنګه چې يوځل دحضرت مولانارشيداحمدګنګوهی په حضورکې دحديث شريف دلوست په وخت کې داسې بيان وشوچې جنتيان ځوانان ږيرې نه لري ،په دې وخت کې يې يوه زده کوونکي داسې پوښتنه وکړه چې دسړی (نارينه ) ښايست په ږيره کې دي نوڅنګه جنتيا ن ږيرې نه لري ؟

نو ؛ ده يې په ځواب کې داسې وويل : «خونديې له هغوخلکو وپوښتئ چې ږيرې خريي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درږيرې پرېښودل داسلام دشعائروڅخه دي

ږيره داسلام له شعائرو(نښانو)څخه ده .يعنې درږيرې په لرلو ،ختني اوعقيقې کولو اوداسلام دسپيڅلي دين دآذان څخه شخص پيژندل کيږي ،يوه فرهنګي سړی خپله يوه خاطره داسې بيان کړيده :چې دمسلمانانواوهندوانودجنګ په وخت کې دمسلمانانو په کاروان کې سپور وم ،مسلمانانوغوښتل چې ما ووژني ځکه چې جامې اوڅيره مې دمسيحيانوغوندې وه ،دی وايي : زه پخپله څيره ډيرشرميدلم خووروسته دې ته اړشوم چې خپل پتلون ټيټ کړم اوخپله ختنه هغه ته وښايم ترڅوځان مې وژغورم ،وروسته له هغه مې توبه وکړه اوږيره مې ونه خريله .

يوقوماندان اويوبل مسلک واله سړی دمنشي اکبرعلي (دمولانا تهانوي دورور)کورته راغلل چې قوماندان مسلمان اودبل مسلک واله سړی هندو ؤ ،دکوربه له کوره يې (پان) راوړ ،خدمت کوونکي يې پان دهندو مخې ته کيښود اوهغه ته يې درږيرې په درلودلوسره دمسلمان ګومان وکړخوقوماندان چې ږيره نه درلوده هغه ته يې دمسيحي ګومان وکړپه دې حال کې نوموړی مسلمان ډير وشرميده اومولاناعلی اکبرهم هغه ته سپکې سپورې وکړې .

لنډه داچې ږيره دمسلمانی يوه ښکاره نښانه ده ،دژوندانه په مختلفو پړاونوکې ورځني رواجونه اودودونه تغيرمومي ،يووخت داسې ؤچې دنارينه ؤ مرتبه اوعزت به دبريتونوپه پريښودلوکې بريښيده هرڅومره به يې چې بريتونه اوږده ؤپه هغومره اندازه به يې مرتبه لوړه وه ،مګرنن ورځ دبريتونوخريلو اولنډولودهغه ځای نيولی دي ،په اوسنۍ زمانه کې درږيرې اوبريتونودنشتوالی له امله دنارينه ؤ اوښځېنه ؤ توپيرډيرستونزمن شوي دي .

په هرصورت دنارينه دڅيرې ښکلاپه ږيره کې ده ،که هرڅول سړی وي په ږيره سره ډيرښايسته ښکاريږي .رسول اکرم (صلی الله عليه وسلم) درږيرې په خريلوسره څومره آزاريږي ؟نوموړې مئسله دميرزاقتيل ديوي خاطرې له مخې درک کولای شئ .

ميرزاقتيل دالمشرب يوخپلواک اوصوفی شاعرؤ يوه ايراني سړي يې شعرونه آوريدلی ؤ داسې ګومان يې کړئ ؤچې نوموړې شاعردحال ويلوخاوند دي ،له ايران څخه يې دنوموړې شاعرسره دکتلواوخبرواترولپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسفرتیاری ونیو ،ډهلی ته ورسیداو دمیرزا ملاقات ته ورغی ،په دې حال کې میرزادږیرې په خریلوسره بوخت ؤ ،ایراني سړي وویل : ښاغیله ږیره خریي ؟میرزاقتیل یې په ځواب کې وویل :هو ،ږیره خرایم مګردچاززړه نه خرایم ،چې نن ورځ ډیرخلک دافکرلري چې :

مباش درپی آزاروهرچه خواهی کن        که درشریعت ماغیرازاین ګناهی نیست

دغه ایراني سړي یې سم دلاسه په ځواب کې وویل :هو! ته درسول الله (صلی الله علیه وسلم) زړه خریې ځکه چې په یوه حدیث شریف کې راغلي دي چې : دهرې اونۍ ددوشنبی اوپنجشنبی په ورځوکې دامت ډیراعمال دالله (جل جلاله) مبارک حضور ته وړاندې کیږي ،آنحضرت (صلی الله علیه وسلم) کله چې دخپلوامتیانو له بدو اوناوړه اعمالوڅخه خبرشي ډیرپرې خفه اوپریشانه کیږي ،ځکه چې د آنحضرت (صلی الله علیه وسلم) یوازنۍ تمه داده چې دهغه دامت هیڅ یوتن ددوزخ وړنه شي .

میرزا قتیل دایراني سړي ځواب واورید داسې بویه چې دهغه سترګې به خلاصې شوي وي هغه په یوه ځانګړي حالت کې ډوب شو اوروسته یې وویل :

جزاک الله که چشمم بازکردي        مراباجان جان همرازکردي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بهانې

ډيردبدمرغۍ ځای دی چې ډيرخلک په دې خاطرږيره خريي چې زمونږسن (عمر) زيات معلوم نه شي . زيات عمريوالهي نعمت دي ،دهغه پټول (کم ښودل) ناشکري ده .

ځينې نورخلک بياداسې وايي چې : مونږ ږيره دعمرپه پای کې پريږدو ،آيادوي پوهيږي چې ترسپين ږيري توب پورې به دوی ژوندي پاتې کيږي ؟انسان په يوه شيبه ژوندباندې ډاډه نه دی کيدای شي همدا ساه يې دژوندون وروستۍ ساه وي .

ځينې نوربياپه دې خاطرږيره نه پريږدي چې خلک پرمونږپورې مسخرې کوي .

مسلمانان د« ..**وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَآئِمٍ** ... » صفت درلودونکي دي . دالمايده سورت ۵۴ آيت .

**ژباړه :** « دملامت کوونکو دملامتيااومسخروڅخه به نه ويريږي .»

يعنې مسلمان دمسخره کوونکو له ملامتياڅخه ويره نه لري ،په دې بهانه سره بايد ږيره ونه خريل شي داځکه چې داعمل ديوخوناعقله مسيحي اوياخوظاهري مسلمانانوپه نظر ښه ښکاريږي ،مګرهغه ذات چې زمونږه اصلي اړيکه اوپيوندله هغه سره دی ږيره خوښوي .

دلارامی که دارای دل در وبند          دګرچشم ازهمه عالم فروبند([7])

که چېرې دږيرې پريښودل دخوکم عقلوپه نظردشرم خبره وي ،نومسلمانيت به هم دډيروخلکوپه نظرشرم وي ،نوآياداسلام څخه هم بايدواوړئ ؟!

يوچاحضرت تهانوي (رح ) ته يو ليک راوليږه چې که چېرې دمسلمانانوحاکم فرنګي جامې وانه غوندي دخلکوڅخه يې ويره اورعب له منځه ځي اوخلک به داسې وايي چې دادجومات مولوي ياامام دي .

حضرت تهانوي (رح) يې په ځواب کې وفرمايل : داسې يوه شخص ته لکه ته ډيرتعجب کوم چې دادول خيال له ځان سره لري : لومړی خودايوازې دليدنې اوتجربې په خلاف يو خيال دي بلکه وقاراوعزت په دې

---

( [7] ) - ملت ابراهيم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



جاموسره نه زياتيږي داځکه چې داعزت ،وقاراو ويره ددېانت نتيجه ده ،په ځانګړې توګه کله چې په يوه باارزښته شخص کې وليدل شي . دهغه ستاينه تل په ژبواوعظمت يې په زړونوکې وي داځکه چې مخکې يې وحشت له هيبت اوويرى سره ؤو مګراوسى يې هيبت له انس اومينى سره دي ،په حديث شريف کې داسې راغلي دي چې : « من هاب الله هابه کل شئ . »

**ژباړه :** « څوک چې دالله (جل جلاله) څخه وويريږي نودده څخه به ټول شى ويره ولري. »

پردې سربيره که چېرې عام خلک دږيرې دخريلويادکفاروجامې اغوستلو ياحتى مسحيت ته ډيرمرغوبيت(خوښ والى) ورکوي ،آيادومره بايده آزادانه رفتار وشي ؟.([8])

---

([8]) - آداب المساجد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دسنتوپيروي

لـوي خـداى جـل جلالـه زمـونږګران پيغمبرحضـرت محمدمصـطفى ( صـلى الله عليـه وسـلم ) اسـوة حسـنه اوټولوانسانانوته يې يوه نمونه ګرځولې ده چې دهغه له سنتوڅخه بايدپيروي وشي ،لکه څرنګه چې الله (جل جلاله) په خپل کتاب قرانکريم کې داسې فرمايلي دي :

« لَّقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ ٱللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُواْ ٱللَّهَ وَٱلْيَوْمَ ٱلْآخِرَ وَذَكَرَ ٱللَّهَ كَثِيرًا ﴿٢١﴾ » .

دالاحزاب سورت ٢١ آيت .

**ژباړه :**«په رښتياچې تاسولره دالله (جل جلاله) په پيغمبرکې ښه اخلاق دي (نيکه نمونه) ده چې پيروي به يې هغه څوک کوي چې الله (جل جلاله) اودآخرت دورځې ښيګڼې غواړي او الله (جل جلاله) ډيريادوي .»

درسول الله (صلى الله عليه وسلم )شخصيت زمونږلپاره يوه نيکه نمونه ښودل شوي ده اوس که چېرې د حضرت محمدمصطفى( صلى الله عليه وسلم) يوسنت هم پريښودل شي نمونه نه پوره کيږي . الله (جل جلاله) د حضرت محمدمصطفى( صلى الله عليه وسلم) هرسنت خوښوي ،مګرله بده مرغه چې نن وخت مسلمانان دآنحضرت (صلى الله عليه وسلم ) دسنتوپه ځاى دغربيانوشکلونه ،ستايلونه اوڅيرې خوښوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جسمي زيانونه

ديونـان دطـب متخصصـينومخکې داسـې ادعـا کـړې وه چـې ږيـره دنارينـه ؤ لپـاره يـوه ښـکلاده اودغـاړې اوسينې ساتنه هم کولای شي ،دا دی اوس بېولوژيکي متخصصينوهم دې ته ورته نتيجې لاس ته راوړې دي ،يوډاکتروايي : په دايمي توګه په تيغ سره دږيرې خريل دسترګواعصاب کمزوري کوي اودسږي دليدلوقوه کمزورې کوي .

يوبل ډاکتر بياوايي : اوږده ږيره له ستوني اوسينې څخه دميکروبونو دخپريدو مخه نيسي .

يوبل طبيب ترهغه هم مخکې ځي اوداسې ادعاکوي :که چېرې تراووم نسل پورې ديوې کورنۍ غړي ږيره وخريي نو آتم نسل به يې هيڅ ږيره ونه لري ،ددې علت دادي چې دمنويه (ژن) ماده په نارينه ؤ کې ورو ورو کميږي ترڅوټوله لـه منځـه لاړه شـي .ډاکترهـومر دږيـرې خريـل دځيـرې بـدرنګۍ ،دمړرانيسـم غلامـۍ اودښځېنه ؤ عادت ګڼلی دی نوموړی په دې باوردي چې خپلواکيت ،شجاعت اوميړانه ، حوصله اوبرده بـاري ،همـت ،غيـرت اونورتـول نارينـه خويونـه اودهغـه ښـکلاوې دږيـرې پـه لرلواوښـکلاکې نغښـتې دي اوهمدارنګه ځينې ناروغۍ لکه ټوخی ،دپزې بهيدل اوداسې نورټول دږيرې په خريلوپورې تړاو لري . ([9])

حضرت حکيم الامت مولاناتهانوي (رح) داسې فرمايي : هرکله چې دږيرې خريل دګناه په توګه ثابت شول له هغه وروسته کوم کسان چې هغه خوښوي اوبايې اوږدول عيب بولي اوهغه ته سپکاوي کوي نوپه دې صورت کې هغه ته دايمان ساتنه ډيره ګرانه ده ،دې ډول کسانو ته په کاردي چې له دې ناوړه حرکتونوڅخه ځان وژغوري اوتوبه وباسي اوايمان اونکاح يې له سره تجديد( نوي) کړي اوخپل ځان او ږيره دالله (جل جلاله) اودهغه داستازي رسول اکرم (صلی الله عليه وسلم) داحکامومطابق برابر کړي .([10])

يوځل بيافرمايي : ځينې خلک دږيرې خريل ښايست ګڼي په داسې حال کې چې داښکلانه بلکه بدرنګي ده که چېرې فرضاً ښکلااوښايست وي نوکومه اړتياشته ده چې هغه حلال وګڼي ،دحرام والی په صورت کې يې دادښکلاخيال څه ستونزه لري خوتوپيردادي چې څوک يې حلال ګڼي اومرتکب يـې شي دهغـه دين لـه

---

([9]) - دږيرې طبي حيثيت ، مولانامحمدعاشق الهی ميرتهی.
([10]) - اصلاح الرسوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځه ځي اماکه څوک يې حرام وګڼي اومرتکب يې شي دين يې کم له منځه ځی .([11]) په دې اساس هغه کسان چې ږيرې خريي که خدای ناخواسته ږيره نه شي پريښودلی سپکاوی خودنه ورته کوي داځکه چې داثابته شوي خبره ده چې شرعي څيره عيب ګڼل او هغه ته سپکاوی کول کفردي . ([12])

ځکه چې درسول الله (صلی الله عليه وسلم) اطاعت اوپيروي عين دالله (جل جلاله) اطاعت اوپيروي ده :

**« مَّن يُطِعِ ٱلرَّسُولَ فَقَدۡ أَطَاعَ ٱللَّهَۖ وَمَن تَوَلَّىٰ فَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ عَلَيۡهِمۡ حَفِيظٗا ﴿٨٠﴾ .»**

دالنساء سورت ۸۰ آيت .

**ژباړه :** «څوک چې دپيغمبر(صلی الله عليه وسلم )اطاعت وکړي نوپه حقيقت کې يې دالله (جل جلاله) اطاعت کړئ اوڅوک چې دتاداطاعت څخه مخ واړوي نوته مونږدوي ته ددوي په سرباندې ساتونکی نه يې ليږلی. »

همدارنګه الله (جل جلاله ) په خپل سپيڅلي کتاب قرآنکريم کې بل ځای داسې فرمايلي دي :

« **فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤۡمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيۡنَهُمۡ ثُمَّ لَا يَجِدُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ حَرَجٗا مِّمَّا قَضَيۡتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسۡلِيمٗا ﴿٦٥﴾ »** .دالنساء سورت ۶۵ آيت .

**ژباړه :** « پس ستاپه رب قسم دي چې دوي ترهغه پورې نه مؤمنان کيږي چې تاحکم کړی وي ددوي په منځ کې دپيښې شوې جګړې ،بيا ونه مومي ددوي په خپلونفسونوکې خفګان (تنګي ،ناخوښي) له هغه شي چې تايې حکم (فيصله ) کړې وه اوويې مني دوي په منلوسره (بې له جګړې په خوښۍ سره ) » .

يعنې داسلامي شريعت په احکاموباندې دعمل کولوپه وخت کې دسړی په زړه کې تنګ والی راشي داکفردي .

شيخ دايان فرمايي : يونيک صالح شخص مړشو اوهغه يې خښ کړ يوڅه و خت وروسته يې دخپلوانوپام شوچې دهغه دقبرپه څنګ کې سيلاب راځي ،ددې لپاره چې دهغه شخص قبر سيلاب ړنګ اوخراب نه

( [11]) - اسباب الفضائل.
([12]) - حيات المسلمين.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي نو ؛د نوموړي شخص خپلوانو وغوښتل چې هغه بل ځای ته یوسی تر قبرکیندلو وروسته یې ولیدل چې یوه ځوانه ښځه په دې قبرکې خښه شوې ده. له موجودو کسانوڅخه یوه تن داښځه وپیژندله او ویې ویل : چې داښځه دفلاني ځای دمسیحیانوله ډلې څخه ده چې په پټه یې ایمان راوړی ؤ ،له مړینې وروسته یې نوموړې ښځه په خپله هدیره کې خاوروته سپارلې وه ،له بلې خوا کله چې مسیحیان له دې پیښې څخه خبرشول نو ؛ دهغه ښځې هدیرې ته ورغلل اودهغې قبریې رالوڅ کړ ویې لیدل چې یولوی اونیک صالح سړی دهغې په قبرکې خښ شوي دي ،ددې شخص له خپلوانواو وارثانویې څیړنه پیل کړه اوهغوی په دې اړه داسې وویل : دغه نیک صالح سړی دجنابت دغسل دمسئلې په اړه بدبین ؤ په دې اړه یې دمسیحیانومذهب غوره ګڼلی و ،چې دجنابت نه وروسته غسل نه کوي دا تأثیر اوپیښه دده د باطل خیال له امله منځ ته راغلې ده . نو ؛ لوستونکي باید ددې حیرانوونکې پیښې څخه پوره پنداوعبرت واخلي چې نوموړی شخص په یوه فرعی مسئله کې چې له جنابت څخه وروسته یې دغسل په کولوسره په زړه کې دتنګوالی احساس کړی و له یوه داسې برخلیک سره مخامخ شو چې دمسلمانانوله هدیرې څخه دمسیحیانوهدیرې ته وړل شوی ؤ .

غـــور سی فعـــان مـیری درس عبرت هی داستان میری

ځینې نورخلك بیاپه دې خاطرږیرې نه پریږي اوپه هغه سره مسخرې کوي چې مونږپوره دینداره کسان نه یو آخرپه دې مسئله کې دږیرې څه نقصان دی چې بایدهغه وخریې ،تاسې په دې پوره باورولرئ چې دږیرې خاوند هیڅکله غل اوبدکاره سړی نه جوړیږي بلکه غل اوبدکاره سړی ددې لپاره ږیره پریږدي چې خلک پرې باور اواعتماد وکړي .

لکه څرنګه چې شیخ التفسیرمولانااحمدعلی لاهوری فرمایلي دي : لمونځ کوونکی غلانه کوي بلکه غل سړی جومات ته دلمونځ کوونکي په توګه راځي ترڅودخلکوبوټونه غلاکړي نوآیاهغه کسان چې ږیره وهي کولای شي ادعاوکړي چې دبشري زیانونو څخه به وساتل شي ؟!چې داسې به هیڅکله پاتې نه شي نوولې دږیرې په خاوندانوپورې مسخرې کوي ؟ ددوی باید پوره ستاینه وشي چې دږیرې خریونکوپه مقابل کې یونیک اوصالح عمل زیات لري اوخپله څیره یې په ږیره سره ښکلې کړیده .دږیرې خاوندان باید دعاموخلکوله سپکاوي اومسخروڅخه ونه رنځیږي چې دهغه په خاطرږیرې وخریي هغوي ته باید داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب ورکړي چې که چېرې تولـه نړی ستاسې ملګرې وي اومونږپه هرپـل اوهـره شيبه کې ماتې وخـورو خوزمونږيوازينۍ تمه اوهيله داده چې لوي خدای (جل جلاله) مونږداسلام په وسيله نيک نامه وګرځوي اګرکه دنړی دخلکولخواپه بد نوم يادشو.په رښتياچې درسول الله (صلی الله عليه وسلم) دسنتودپيروي په لارکې دمخلـوق لورتـه پاملرنـه اودهغـوي دسپکاوي اومسـخرو لـه املـه خفګـان اوپريشـاني اويادهغـه څخـه رضايت اوخوشحالي هيڅ معنی نه لري .

بياهم درېيرې لـه خاوندانوڅخـه داهيلـه لروچې درېـرې پـه لرلوسـربيره خپـل ځانونـه نـورهم اصـلاح کـړي اودرېرې حق نورهم اداءکړي اوداسې کارباید سرته ونه رسوي چې دعاموخلکودنيوکې لاسونه ددوي په لور پورته شي .په حقيقت کې درېرې خاوندان پوره ديانت اوتعهد نه لري ،ځينې خلک درېرې دخريلومرتکب کيږي خوځينې نوربيادشهوت پالنې مرتکب کيږي .نو ؛ دتعهدپرته يوازې ږيره څه ګټه لري ؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په قرآن کې دږيرې حکم

ځينې خلک داسې وايي چې دږيرې حکم په قرآنکريم کې نشته ،که چېرې داموضوع په قرآنکريم سره ثابته وي مونږبه ږيرې پرېښې وی ،حضرت حکيم الامت مولانا تهانوي (رح) په ځانګړې توګه داسې فرمايلي دي :چې شرعی ادله([13]) څلوردي :

1. قرآن
2. حديث
3. اجماع
4. فقه

که چېرې مصدرله دغه څلوروڅخه په يوه کې حکمي وليدل شي ،داسې بويه چې په ټولوکې ليدل شوی دي . نو کله چې دږيرې حکم له حديث شريف څخه ثابت شي له قرآنکريم نه هم ثابتيږی : « **مَّن يُطِعِ ٱلرَّسُولَ فَقَدۡ أَطَاعَ ٱللَّهَۖ وَمَن تَوَلَّىٰ فَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ عَلَيۡهِمۡ حَفِيظٗا ٨٠** .» دالنساء سورت ۸۰ آيت .

**ژباړه :** «څوک چې دپيغمبر(صلی الله عليه وسلم )اطاعت وکړي نوپه حقيقت کې يې دالله (جل جلاله ) اطاعت کړی اوڅوک چې دتاداطاعت څخه مخ واړوي نوته مونږدوي ته ددوي په سربانديې ساتونکی نه يې ليږلی .»

يوچاله امام احمد(رحمة الله عليه )څخه په قرآن کې دږيرې دحکم په اړه پوښتنه وکړه ،دهغه په ځواب کې يې داسې وفرمايل : زه پرې غور اوځيرنه کوم اوبياوروسته تاته ځواب وايم ، امام احمد(رحمة الله عليه ) په لومړۍ ورځ لس سيپارې قرآنکريم قرائت کړ ،دوهمه ورځ يې بيالس سيپاری قرآنکريم قرائت کړاوپه دريمه ورځ کله چې دغه آيت شريف ته ورسيد: « **.. وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمۡ عَنۡهُ فَٱنتَهُواْۚ ..** »

دحشرسورت ۷ آيت .

([13]) - لغوي معنې: ددليل جمع يعنې دلائل يادليلونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه :** « اوهغه څه چې دالله (جل جلاله) رسول تاسې ته درکړي هغه ونيسئ (قبول) يې کړئ اوله هغه څه چې رسول الله تاسې له هغه څخه منع کوي ترې ليرې شئ . »

يعنې داچې کله تاسوته دخدای (جل جلاله) استازي کوم شی وښودل هغه ومنئ اوله کوم شي نه يې چې منعه کړئ هغه پريږدئ اوهغه سرته مه رسوئ ،نو امام احمد(رحمة الله عليه) وفرمايل چې : په دې آيت شريف کې دږيرې حکم راغلی دی .

په همدې خاطرمونږ ته امرشوی دی چې پدې سنتوسره پابند و اوسؤ.

**ربناتقبل منا انک انت السميع العليم**

**نعمت الله پټانزی**

**دژباړې پای : ۱۳۹۵هـ ش ، غبرګولی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ژباړن لنډه پیژندنه :

**نوم اوتخلص :** نعمت الله پټانزی **دپلارنوم :** شهید اسدالله صدیقي **دنیکه نوم :** عبدالغیاث

**زوکړه :**

نعمت الله پټانزی په( ۱۳۶۷ه ش/۱۹۸۸م ) کال کې دوردګو ولایت دسیدآباد ولسوالی دشنیز د درې دپټانخیلو په کلي کې په یوه درنه اودینداره کورنۍ کې زیږدلی دی .

**زده کړې :**

- لومړنۍ زدکړې یې ترشپږم ټولګي پورې دوردګو ولایت دسیدآباد ولسوالی دسعدیې په لومړنۍ ښوونځی کې ترسره کړې دي .
- منځنۍ اوثانوي زده کړې یې هم دوردګو ولایت سیدآباد ولسوالی دحضرت خالدبن ولید (رض) تکیې په عالي لیسه کې ترسره کړې اوله نومورې لیسې څخه په( ۱۳۸۶ ه ش) کال کې په اعلی درجه (اول نومره) فارغ شو .
- دکانکورله آزموینې وروسته دهرات پوهنتون داقتصاداومدیریتي علوموپوهنځی ته بریالی شو ،اګرچې یوکال یې په دې تحصیلي دوره کې دځینوستونزوله امله ځنډراغی خوله نومورې پوهنځی څخه په (۱۳۹۱ه ش) کال کې په پوره بریالیتوب سره فارغ التحصیل شو.
- نعمت الله پټانزي په (۱۳۹۰ه ش) کال کې دمدیریت او تجارت (Business Administration) په څانګه کې دجرمني ددوست هیواد دهانس بنیاد(Hones Foundation) لخوادافغانستان دسوداګرئ اوصنایعوله خونې څخه ترشپږمیاشتنیوعملي اونظري زده کړو وروسته تصدیق نامه لاس ته راوړې ده.
- نعمت الله پټانزي په (۱۳۸۸ه ش) کال کې دجمعیت اصلاح افغانستان داسلامي معارف له کورس څخه هم تصدیق نامه ترلاسه کړی ده.

**آثار اولیکنې :**

1. په اسلام کې دږیرې حکم (ژباړه ،همدا اثر) .
2. دلمانځه په قعدوکې دشهادت په ګوته اشاره (ژباړه ،ناچاپ اثر) .
3. دپټان ننګ (شعري ټولګه ،ناچاپ اثر) .
4. ترمې اوښکې (دحمدونو او نعتونو شعري ټولګه ،ناچاپ اثر) .
5. دغیرت خیره (دغازي شیرخان وردګ په ژوند او خاطرو هر اړخیزه څیړنه ، ناچاپ اثر) .
6. جیومتریک مفاهیم اوفورمولونه (ناچاپ اثر) .
7. رنګینې کربښې (دپوهنتون خاطرې ،ناچاپ اثر) .
8. ګڼ شمیرنورې مقالې چې د هیواد په بیلابیلو مجلو ،ورځپاڼو او ویب پاڼو کې خپرې شوې دي .

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library